دوېمه برخه

نوټ: د دوېمې او درېمې برخې دپاره وخت دوه ګهنټې او څلوېښت منټه دے.

سوال2: په لاندینې جزونو کښې د نهه (۹) سوالونو مختصر ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابرې دی.

۱. ستاسو په خیال اسلام په څهٔ اصولو د امن او سلامتیا دین دے؟
۲. په کاغذ کښې لیکلې د خپلې خوښې څلور وصیتونه ولیکئ؟
۳. کوتهم بدهٔ حقیقت ته د رسیدو دپاره څهٔ څهٔ اوکړل؟
٤. په اسم علم کښې د خطاب، لقب، عرف او کنیت تعریفونه اولیکئ؟
۵. امن او اتفاق خلقو ته څهٔ فائدې رسوي؟
٦. د انسان په مال کښې څو حصه دار وي؟
۷. پښتون ثقافت سره تړلې څلور متلونه اولیکئ؟
۸. د خوشحال خان خټک دوښمنې د چا سره وه او کوم زوي ئې نافرمانه وهٔ؟
۹. شاعر فضل احمد غر کوم قسم خلق په مردانو شماري؟
۱۰. کوټاپینه خلق د خوشحالی باره کښې څهٔ وائي چې خوشحالي په څهٔ ده؟
۱۱. د جهالت الزام په چا چا لګي؟
۱۲. په ګل او خار کښې څهٔ قدر مشترک دے؟

درېمه برخه

نوټ: په لاندینې سوالونو کښې د درېو سوالونو ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابرې دی.

سوال3: لاندینۍ عبارت په آسانه وروانه پښتو کښې اولیکئ.

موټرې په شغ تیریدې، ټانګې په کړ کړ او سائیکل په شون شون. هر یو د خپل توفیق مطابق د غټو غټو، پلنه پانړۍ داړه راوېشته او مونږ به ترې تر خپله توفیقه ځان بچ کولو. کله بچ شوي، کله نه بچ شوي، کله ولاړ کله روان. داسې په تلو او نهٔ تلو، تلو او نه تلو کښې مو څه لار ووهله. (یا)

د ډاکټر محمد زبیر حسرت په ادبي خدماتو رڼا واچوئ.

سوال4: د لاندینې شرونو تشریح په آسانه پښتو کښې اولیکئ.

شته په خیټه کښې د کال | هم سېرلې هم پشکال
په عمل کښې مونده کیږي | هم ثواب او هم وبال

یا

هغه اختر چې بې لهٔ تا تیریږي | د عاشوري غوندې په ما تیریږي
چه تا رایاد کړمه په ذهن کښې مې | خوره خوره غوندې رڼا تیریږي

سوال5: خپل مشر ورور ته خط اولیکئ او د تعلیم اخراجاتو نه خبر کړې. (یا)

په لاندینو کښې ه یو باندې مضمون اولیکئ.

(۱) د روژې برکات (۲) علم لویه سرمایه ده (۳) اخبار کتلو فائدې

سوال6: د لاندینې عبارت په پښتو کښې ترجمه اوکړئ.

ماں باپ اللہ تعالیٰ کی ایسی نعمت ہیں جن کا مول اس دنیا میں اور کوئی نہیں۔ ہم سب کا فرض ہے کہ اپنے والدین کی دل و جان سے خدمت کریں۔ سب سے بڑی عبادت ماں باپ کی خدمت ہے۔ آیئے عہد کریں کہ ہم والدین کے مکمل اطاعت گزار اور فرمانبردار رہیں گے۔ (یا)

په لاندینو کښې په یو باندې نوټ اولیکئ.

(۱) عبدالرحیم مجذوب (۲) سمندر خان سمندر (۳) ډاکټر محمد اعظم اعظم

www.ilmkidunya.com